عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپرونه: عمومي
۱۵ جون ۲۰۲۱

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**پنځه اویایمه ناسته**
**د اجنډا ۳۹ ماده**
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**شپږ اویایم کال**

# د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړی. پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک په تعقیب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپور ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۲۱ کال د مارچ پر ۱۲ نېټه د پخواني راپور (A/75/811-S/2021/252) راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیایي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم. اړوند پرمختګونه

۳. د ترکیې هیواد په استانبول کې د لوړې کچې کنفرانس تر ځنډېدو وروسته د سولې مذاکراتو د غښتلي کولو هڅې سوکه شوې، چې د ښکیلو لورو له خوا په خبرو اترو کې د بشپړ او رغنده ګډون لپاره د نوې شوې ژمنې اړتیا په ډاګه کوي. د امریکا د متحده ایالاتو او د شمالي اتلانتیک سازمان د غړو هیوادونو (ناټو) له خوا د ۲۰۲۱ کال تر سپټمبر پورې د خپلو پاتې ځواکونو د ایستلو له اعلان سره، طالبانو په ډاګه کړه چې تر دغه وخت پورې به دوي د لوړې کچې په هر ډول مراسمو کې له ګډون څخه ډډه وکړي. د افغانستان اسلامي جمهوریت له خوا د سولې پروسې په اړه د وحدت رامنځ ته کولو هڅې له ستونزو سره مخ شوې، په داسې حال کې چې دولت د بین الافغاني سولې او پخلاینې، اقتصادي همکارۍ او اتصال په اړه پراخې سیمه ییزې اجماع ته د ودې ورکولو هڅه کړې. د سولې د یوې ټول شموله پروسې او دغه راز د بنسټیزو حقونو او ازادي ګانو د ساتلو لپاره غوښتنو دوام درلود. په ۲۰۲۰ کال کې د ورته موديې په پرتله د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ ربع کې د ملکي تلفاتو شمیر د ۲۹ سلنې په لوړېدو سره، امنیتي پېښو په لوړه کچه دوام درلود. روان تاوتریخوالي، طبیعي پېښو او د خوړو د لوړې کچې نا خوندیتوب دغه کړاو لا پسې زیات کړی کوم چې د کرونا وایروس (کوویډ-۱۹) له ناروغۍ سره مل و.

#### الف. سیاسي تحولات

۴. د راپور ورکولو په موده کې د امنیتي سکتور په ګډون د وزارتونو او لوړپوړو پوستونو په کچې ګمارنو دوام درلود. د مارچ پر ۱۹ نېټه، ولسمشر اشرف غني د کورنیو چارو وزیر بدل کړ. د اپریل پر ۲۴ نېټه، د ملي امنیت د شورا په دفتر او د ملي امنیت په ریاست کې د لوړې کچې ګمارنې او بدلونونه اعلان شول چې موخه یې په امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو د هڅو چټکول او د امنیتي لیږد د غوښتنو پوره کول په ډاګه شوي. ښاغلي غني همدارنګه نوي سرپرست لوي څارنوال، دوه نوي سناتوران، د پوهنې په اړه د ولسمشر سلاکار، یو شمیر سفیران او د ملي تدارکاتو او ملکي هوا نواردي په ادارو او ریاستونو کې چارواکي او والیان ګمارلي. په ورته وخت کې، په پارلمان کې له اساسي قانون سره سم د تایید لپاره یو ځل بیا ولسي جرګې ته په رسمي ډول د سرپرستو وزیرانو او نورو اړوندو نوماندانو د معرفي کولو او د هغو پر ځای چې په نومبر او ډسمبر کې رد شوي د نورو هغو د معرفي غوښتنه وشوه. د مصالحې د عالي شورا رئیس عبد الله عبد الله او د مارشال رشید دوستم په ګډون د اپوزیسیون نورو چارواکو د ګمارنو په اړه د سلا مشورو د نشتون له امله خپله اندېښنه څرګنده کړه په تیره بیا د کورنیو د چارو د وزیر او د فاریاب د والي د بدلون په اړه، او د ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د مۍ د ۱۷ نېټې په سیاسي تړون کې د تصریح شویو مواردو د تطبیق غوښتنه کوله.

۵. ولسمشر دغه راز د امنیت، ځايي حکومتولۍ او پرمختګ د ښه کولو په پار د والیانو او ولسوالانو بدلول جاري ساتلي. د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې د ولسمشر د لوړې له مراسمو راهیسې، له ۳۴ والیانو څخه یوازې ۶ هغه یې په خپلو منصبونو پاتې شوي. د ۲۰۲۰ کال د جولای د ۶ نېټې د ولسمشر له فرمان سره سم چې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ټولنیزو او اقتصادي چارو لپاره د والي د دویم مرستیال منصب رامنځ ته کوي، په ۲۰۲۱ کې د ۱۲ ګمارنو په ګډون ۲۷ ښځې ګمارل شوي. دغه ټول منصبونه باید د ښځو له خوا اشغال شي. د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر د ۴ نېټې د ولسمشر د فرمان په تعقیب د کوم په واسطه چې په امنیتي چارو او د شخړو په حل کې ولسوالانو ته پراخ نقش سپارل شوی، له ۳۸۷ ولسوالانو څخه تر نیمه یې زیاتو هغو کارکردګۍ ارزول شوې. زیاتره هغه یې تر ارزونې وروسته بدل شوي. د ملکي خدمتونو د رقابتي ګمارنو د طرز العملونو په نشتون کې، مرستیال والیان او ولسوالان د سرپرستۍ په ظرفیت کې خپلې چارې پرمخ وړي.

۶. څرنګه چې د ۲۰۲۰ کال د مۍ میاشتې په سیاسي موافقه کې غوښتنه شوې، د انتخاباتي چارو تنظیموونکو ادارو د ولایتي، ولسوالۍ شوراګانو او ښاروالۍ ټاکنو او په غزني ولایت کې د ولسي جرګې د ځنډېدلو ټاکنو د ترسره کولو لپاره چمتوالی جاري ساتلی. د مارچ پر ۸ نېټه، د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د انتخاباتو د قانون کتنه ترسره کړه او د تعدیلاتو مسوده یې عدلیې وزارت ته وړاندې کړه. وړاندیز شوي تعدیلات د ولسي جرګې د ټاکنو د انتخاباتي سیستم، د رایې ورکوونکو د ثبت، د ټکنالوژۍ د کارولو او د پایلو د مدیریت د سیستم لپاره بدلونونه رانغاړي. د اپریل پر ۱۹ نېټه، د کمیسیون دار الانشاء په رسمي ډول کمیسیون ته مشوره ورکړه چې په ۲۰۲۱ کې د ټاکنو ترسره کول به ممکن نه وي، څرنګه انتخاباتي پلان جوړونه لږ تر لږه د چمتوالي یوه کال ته اړتیا لري.

۷. په دوحه کې د سولې مذاکرات په سوکه ډول په مخ روان دي. په مارچ کې، د سولې د خبرو اترو د تسریع په پار د متحده ایالاتو له خوا وړاندیزونو او په مسکو کې د افغان سیاسي مشرانو او طالبانو ترمنځ ناستې د پام وړ سرعت رامنځ ته کړي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ په اپریل میاشت کې په استانبول کې د لوړې کچې کنفرانس د ترسره کولو په ګډون.

۸. کنفرانس ته په چمتوالي کې، د ملي مصالحې عالي شورا د سیاسي مشرانو او مدني ټولنې له خوا د سولې له ۲۵ څخه زیات وړاندیزونو د ترلاسه کولو خبر ورکړ څو د سولې د پلان په یوه واحده طرح کې توحید شي. د راپورونو له مخې زیاتره هغه یې د متحده ایالاتو له خوا د افغانستان د راتلونکي، د سولې د موقت حکومت او سیاسي لار نقشې، او یوه دایمي او هر اړخیز اوربند په تړاو د وړاندیزونو طرح کولو غوښتنې ته په غبرګون کې چمتو شوي وو. د مارچ پر ۱۴ نېټه،

افغان ښځینه فعالینو د متحده ایالاتو د وړاندیز د طرح په اړه د دریځ خپله لیکنه خپره کړه، چې د ټول شمولیت، د اساسي قانون او ښځو د حقونو د رعایتولو، او د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک له مخې له نړیوالو مکلفیتونو او د ۲۰۱۷ کال د ښځو، سولې او امنیت د قانون له مخې د متحده ایالاتو د مکلفیتونو سره د تطابق غوښتنه کوي. د اپریل پر ۳ نېټه، ښاغلی غني د بهرنیو سفیرانو د ناستو کوربه و څو د سولې او د یوه "خپلواک، ولسواک، یو موټي او نښلول شوي افغانستان" په اړه خپل لید لوری وړاندې کړي. هغه د سولې د یوه داسې موقت حکومت وړاندیز وکړ چې په تعقیب یې ټاکنې ترسره شي. هغه د سولې د ساتلو په پار پر ملي پخلاینې، د جنګیالیو او کډوالو پر ادغام او تر ټاکنو وروسته د نوي امنیت، پرمختګ، د حکومتولۍ د لومړیتوبونو د معرفي کولو پر پروسې د تمرکز پر اړتیا ټینګار وکړ.

۹. د سیاسي شمولیت او ملي اجماع د غښتلي کولو په پار، لکه څرنګه چې یې د ۲۰۲۰ کال د مۍ میاشتې په سیاسي موافقه کې پیشبیني شوې وه، ښاغلي غني د فبروري پر ۲۸ نېټه د دولت عالي شورا پرانیستله. د مارچ پر ۱۰ نېټه د دغې شورا په لومړۍ ناسته کې د دولتي او اپوزیسیون د فعالینو په ګډون یو شمیر سیاسي مشران سره راغونډ شوي وو. د وروستي غړیتوب په اړه له اپوزیسیون سره سلا مشورې روانې دي. د مارچ پر ۱ نېټه، ولسمشر د ښځو د عالي شورا د لومړۍ ناستې مشري وکړه، دغه شورا د ولسمشر په فرمان د ۲۰۲۰ کال په اګست کې رامنځ ته شوې څو د ښځو د حقونو په تړاو د حکومت د ژمنو په پلي کولو کې مرسته وکړي. د مارچ پر ۲۸ نېټه، ښاغلي غني د ځوانانو عالي شورا پرانیسته چې له ۴۵ غوره شویو ځوانانو څخه تشکیل ده، څو حکومت ته د سولې پروسې په ګډون په مختلفو برخو کې سلا مشورې او سپارښتنې برابرې کړي.

۱۰. د اپریل پر ۱۳ نېټه، ترکیې، قطر او ملګرو ملتونه خبر ورکړ چې دوي به د اپریل له ۲۴ د مۍ تر ۴ نېټې پورې په استانبول کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د استازو ترمنځ د لوړې کچې او ټول شمول کنفرانس کوربتوب کوي څو یوه عادلانه او پایښت لرونکې سیاسي حل ته په رسیدو کې په دوحه کې روانې خبرې تسریع او بشپړې کړي. تر دغې نېټې یوه ورځ وروسته د طالبانو سیاسي کمیسیون خبر ورکړ چې هغوي به تر هغې د افغانستان په اړه د پریکړه کولو په هیڅ کنفرانس کې ګډون و نه کړي، ترڅو چې له افغانستان څخه ټول بهرني ځواکونه نه وي وتلي.

۱۱. د اپریل پر ۱۴ نېټه، د متحده ایالاتو ولسمشر جوزیف آر بایډن جونیر په رسمي ډول د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې له افغانستان څخه د متحده د پاتې ځواکونو د ایستلو اعلان وکړ. دغه خبرتیا د ناټو عمومي منشي جنز سټولټنبرګ هم تایید کړه، او اعلان یې وکړ چې په ورته نیټه به د ناټو د متحدینو وتل منظم، همغږي او قصدي وي او ترڅنګ یې له افغانستان سره خپلې اوږدمهالې ژمنې بیا تکرار کړې. د اپریل پر ۱۵ نېټه، د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکین له کابل څخه لیدنه وکړه څو له امنیتي ځواکونو سره د خپل هیواد دوامداره ژمنې او په افغانستان کې د دیموکراتیکو لاس ته راوړنو سره خپل ملاتړ څرګند کړي. افغان مشرانو په ډاګه کړه چې د هغوي حکومت به د اسان لیږد د ډاډمنولو لپاره کار ترسره کړي.

۱۲. تر دې وروسته د اپریل پر ۲۱ نېټه، د استانبول کنفرانس تنظیموونکو تر هغې نېټې د کنفرانس ترسره کولو ځنډ اعلان کړ تر کومه چې شرایط د مهم پرمختګ لپاره ډېر مناسب وي. هغوي په دوحه کې د سولې له پروسې سره پر خپل ملاتړ ټینګار وکړ چیرې چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکره کوونکو ټیمونو استازو د مباحثو ترسره کول جاري ساتلي.

۱۳. د ښځو او ځوانانو د ګروپونو په ګډون مدني ټولنې، مذهبي مشرانو او رسنیو د سولې د یوې ټول شموله پروسې او همدارنګه د بنسټیزو حقونو او ازادي ګانو ساتل او د تاوتریخوالي پای ته رسولو غوښتل جاري ساتلي. یو شمیر ګروپونو

پلان درلود چې د استانبول د وړاندیز شوي کنفرانس په څنډو کې ګډون وکړي. د مارچ پر ۲۹ او ۳۱ نېټه، د ټول شموله سولې لپاره د افغانستان میکانیزم او د افغان میرمنو شبکې په کابل کې جلا جلا غونډې تنظیم کړې وې څو د سولې په پروسه کې د ټول شمولیت غوښتنه وکړي. ملګرو ملتونو د مېرمنو د شبکو له یوه کنسرسیوم سره مرسته کړې کوم چې په کابل کې د اپریل پر ۱۴ او ۱۵ نېټه سره راغونډ شوی و چې د اوربند، انتقالي عدالت، د حکومتولۍ د جوړښتونو د اساسي قانون د بیا کتنې د پروسو اړوند موضوعاتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ښځینه مشرانو د داسې میکانیزمونو غوښتنه وکړه څو د مدني ټولنې د سلا مشورو پایلو ته د دې زمینه برابره کړي چې د سولې د مذاکراتو د اجنډا او فارمیټ مبنی تاسیس کړي او پر هغوي خپل اغیز وښیندي. د افغانستان د ملګرو ګروپ او په افغانستان کې د ښځو ملګرو ګروپ د مارچ پر ۲۲ نېټه، او د افغان ښځینه سفیرانو ګروپ د اپریل پر ۸ نېټه د افغان میرمنو د حقونو په ملاتړ اعلامیې خپرې کړې څو د هیواد د راتلونکې په اړه اغیز ښیدونکی غږ ولري. د اپریل پر ۲۶ او ۲۷ نېټه میرمنې د سولې پروسې په ایتلاف کې د سولې د پروسې په اړه د ښځو د اندېښنو په اړه مراسم ترسره کړل، چې د اوربند او د ښځو د مهم ګډون غوښتنه یې کوله.

۱۴. په سیمه ییزه او نړیواله کچه، چین، د روسیې فدراتیف او متحده ایالاتو له پاکستان سره یو ځای، چې د غځول شوې ترویکا په نامه پېژند کیږي، په مسکو کې د مارچ پر ۱۸ نېټه او په دوحه کې د اپریل پر ۳۰ نېټه دوه ناستې ترسره کړې چې د سولې پروسې او هغو لارو چارو په اړه خبرې اترې ترسره کړي څو له ښکیلو لورو سره یوه مذاکره شوي حل او دایمی اوربند ته په رسیدو کې مرسته وکړي. په دواړو مواردو کې نوموړي ګروپ د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو له مذاکره کوونکو ټیمونو سره لیدلي. د هغوي د مارچ د ۱۸ نېټې په اعلامیه کې، څلور واړو هیوادونو د افغانستان د اسلامي امارت له بیرته راتلو سره مخالفت څرګند کړ. د هغوي د اپریل د ۳۰ نېټې په اعلامیه کې، دوی د دې یادونه وکړه چې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي کمول او د بین الافغاني مذاکراتو ترسره کولو لپاره د هغوي دوامداره هڅې به د بندیزونو په لیست د طالبانو د افرادو او ادارو وضعیت پر بیا کتنه مثبته اغیزه وکړي، کوم چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب رامنځ ته شوی. دغو هیوادونو همدارنګه د سولې او پخلاینې له پروسې سره د ملګرو ملتونو د پراخ نقش هرکلی وکړ.

۱۵. په یوه ګډه اعلامیه کې چې د اپریل پر ۱۵ خپره شوه، د قزاقستان، قرغزستان، ترکمنستان او ازبکستان ځانګړو استازو او همدارنګه اروپايي اتحادیې پر افغان لور د مذاکراتو د بیرته پیلولو غږ وکړو او د تاوتریخوالي لوړې کچې یې وغندلې. د اپریل پر ۲۳ نېټه، د افغانستان، پاکستان او ترکیې د بهرنیو چارو وزیرانو پر ټولو لورو غږ وکړ چې یوه ټول شموله مذاکره شوي حل ته خپلې ژمنې بیا تایید کړي. د مۍ پر ۶ نېټه، د فرانسې، جرمني، ایټالیا، ناروې، د سترې بریتانیا او شمالي ایرلند متحده شاهي، متحده ایالاتو، اروپايي اتحادیې او ناټو ځانګړو استازو د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو له مرستندویه پلاوي (یوناما) سره یو ځای په برلین کې وکتل څو د سولې د پروسې وضعیت و ارزوي. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو مذاکره کوونکي ټیمونه په جلا جلا ډول د ویډیو کنفرانس له لارې په غونډه کې ګډون کړی و. په یوه اعلامیه کې چې له ناستې وروسته خپره شوه، د مذاکراتو د تسریع اړتیا څرګنده شوه او د ملګرو ملتونو د پراخ نقش هرکلی وشو.

۱۶. یوناما په ننګرهار او فیض اباد کې د دوه نویو نوښتونو په ګډون چې د سولې او منځګړیتوب د هڅو په اړه له دیني عالمانو او ځوانانو سره د تعامل په ګډون د سولې د ځايي نوښتونو تطبیق جاري ساتلی، او اته نور یې بشپړ شوي. د مارچ میاشتې په اوږدو کې، ملګرو ملتونو له خود جوشه مراسمو سره مرسته کړې چې په سلګونو ګډونوالو په کې ګډون کړی و او د ښځو د نړیوالې ورځې د یوې برخې په څیر له ۳۰ په زیاتو ولایتونو کې ترسره شول، څو د ښځو حقونو، د هغوي رهبرې او د سولې په پروسه کې د ښځو شمولیت ته توجه جلب شي. پر ټولنیز یووالي په تمرکز سره،

د ملګرو ملتونو همکارو ادارو په ګډه یو نوښت طرح کړی چې موخه یې د پوهنتونونو په تعلیمي نصاب کې د سولې د موضوعاتو طرح کول دي.

**ب. امنیت**

۱۷. امنیتي وضعیت ورځ تر بلې د ناوړه کیدو په حالت کې دی. د فبروري د ۱۲ او د مۍ د ۱۵ ترمنځ ملګرو ملتونو د امنیت اړوند ۶۸۲۷ پېښې ثبتې کړي چې په ۲۰۲۰ کال په ورته موده کې د ۵۴۰۷ ثبت شویو هغو په پرتله ۲۶.۳ سلنه زیاتوالي او د ۲۰۲۰ کال د نومبر له ۱۳ د ۲۰۲۱ کال د فبروري تر ۱۱ پورې د تیرو دریو میاشتو په پرتله لږکموالی په ډاګه کوي. د وسله والو نښتو شمیر له ۳۳۵۹ څخه ۳۹۷۳ ته ۱۸.۳ سلنه او د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو له ۵۱۵ څخه ۷۵۷ ته ۴۶.۹ سلنه لوړ شوي. د هغو جریاناتو بر عکس چې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو کې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ افغانستان ته د سولې راوستلو د تړون په تعقیب رامنځ ته شول، د هوایي بریدونو شمیر چې د افغان هوایي ځواک له خوا ترسره شوي، له ۱۶۱ څخه ۲۹۵ ته ۸۳.۲ سلنه لوړ شوي. په جنوبي، ختیځو او شمالي سیمو کې تر ټولو لوړ شمیر پېښې ثبتې شوي چې په کلي ډول د ټولو ثبت شویو پېښو ۶۳.۶ سلنه جوړوي، چې هلمند، کندهار او ننګرهار تر ټولو زیات جګړه ځپلي ولایتونه ګڼل کیږي. د دولت او طالبانو له خوا د مۍ له ۱۳ تر ۱۵ پورې د کوچني اختر په مناسبت د یو اړخیز اوربند تر اعلان وروسته، تاوتریخوالی د لنډ وخت لپاره ودرید.

۱۸. د لوړې کچې بریدونو په ټول هیواد کې دوام درلود. په ټولیز ډول، په ۲۰۲۰ کال د ورته مودې د ۸ ځانمرګو بریدونو په پرتله، ۲۲ ځانمرګي بریدونه مستند شوي. اولس بریدونه چې ځانمرګي موټر بم په کې شامل وو چې د جګړې په سیمو په تیره بیا په جنوبي سیمو کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو اهداف په نښه کړي؛ یو هغه یې د اپریل پر ۲۰ پر یوه امنیتي کاروان ترسره شوي، چې په ۲۰۲۱ کال کې په کابل کې لومړی ثبت شوی ځانمرګی برید ګڼل کیږي. ملګرو ملتونو همدارنګه ۷۳ داسې بریدونه مستند کړي په کومو کې چې له مقناطیسی ماینونو ګټه اخیستل شوې، چې ۱۰ هغه یې په کابل کې ترسره شوي. د هدفي وژنو شمیر چې معمولا مسوولیت یې د کوم مشخص لوري له خوا نه اخیستل کیږي، د ۴۰.۱ سلنې په درلودو سره ۲۹۷ ته لوړ شوي، چې په قربانیانو کې یې ملکي کارمندان، په کابل کې د پوهنتون دوه استادان، په جلال اباد کې د پولیو درې ښځینه واکسیناتورانې او د تخار د علماوو د شورا رییس شامل دي. د ځانمرګي موټر بم دوه بریدونه، یو د اپریل پر ۳۰ نېټه په لوګر ولایت کې یوه میلمستون ته ځیرمه او یو بل برید د مۍ پر ۹ نېټه په کابل کې په یوه شیعه میشت سیمه کې د دوه نورو چاودنو په تعقیب ترسره شول، چې د لوړ شمیر ملکي تلفاتو لامل شوې، چې ترمنځ یې ګڼ شمیر ښځینه زده کوونکو شتون درلود.

۱۹. د جګړې هیڅ لوري د پام وړ جغرافیایي لاسته راوړنې نه درلودې. طالبانو د څلورو ولسوالیو مرکزونه نیولي او د بغلان، فریاب، غزني او هلمند په ګډون یې د افغاسنان په جنوب، شمال ختیځ، او شمال لویدیځ سیمو کې پر ښاري سیمو، د ترانسپورت پر مالیو او زیربناوو یې خپل فشار جاري ساتل. د مۍ پر ۱ نېټه د کندهار پر هوایي ډګر له برید پرته، د مۍ تر ۲۵ نېټې پورې طالبانو پر نړیوالو نظامي ځواکونو کوم مستقیم برید نه دی ترسره کړی، له دې یادونې سره سره چې دوي په ډاګه کړې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو په ځنډیدو سره دوي د دغه کار حق لري.

۲۰. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په جنوب او یو شمیر نورو ولایتونو لکه بغلان، فاریاب، غزني او کندهار کې د کلیدي لویو لارو او ښارونو د خوندي کولو په پار د عملیاتو ترسره کول جاري ساتلي. دولت د راتلونکو ځواکونو د پروګرام له لارې د امنیتي سکتور اصلاحات جاري ساتلي، چې د جوړښتونو پر ښه کولو او عملیاتو ته د لا زیاتې ځواب ویونکې تګلارې ته پر ودې ورکولو متمرکز دي. دولتي چارواکو د دې یادونه کړې چې په ۲۰۲۰ کال کې ملي ځواکونو له ۹۰ سلنې څخه زیات عملیات ترسره کړي، چې نړیوالو نظامي ځواکونو ورته یوازې هوایي ملاتړ برابر کړی.

۲۱. د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب یا یې د هغوي له خوا مسوولیت منل شوي بریدونه په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې پرمهال د ۱۶ هغو په پرتله ۸۸ ته لوړ شوي. نوموړې ډلې په ښاري سیمو کې د ملکي وګړو په نښه کول جاري ساتلي. دغې ډلې په جلال آباد کې د مارچ پر ۲ او ۵ نېټه د رسنیو د دریو ښځینه کارمندانو او یوې ښځینې ډاکټرې د وژنې، د هغو چاودنو چې د مارچ پر ۱۴ نېټه یې په کابل کې دوه ملکي موټر او د مارچ پر ۲۱ نېټه په جلال اباد کې د یو شمیر ملکي وګړو د په نښه کولو او د مۍ په نیمه یې کې په کابل پر یوه جومات او په کندز کې د شیعه مذهبو پر غونډې د بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی. په داسې حال کې چې زیاتره پیښې په کابل او ختیځو ولایتونو کې رامنځ ته شوي، نوموړې ډلې د فبروري پر ۲۲ نېټه یوه ویډیو خپره کړه په کوم کې چې هغې "خراسان ته راستنیدنه" اعلان کړې. تر دې وروسته د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د اپریل پر ۲۱ نېټه په غور ولایت کې، له ۲۰۱۷ کال راهیسې د لومړي ځل لپاره، د یوې پېښې، او د مۍ میاشتې په لومړۍ نیمه یې کې په بغلان، کابل، کندز او پروان ولایتونو کې د بریښنا پر پایو او د تیلو پر ټانکرونو د بریدونو مسوولیت پر غاړه واخیست. د دوامدارو ناندرو ترمنځ د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا ټولې ادعاوې نه شي تاییدولی چې ایا مشخص بریدونه د نوموړې ډلې له خوا ترسره شوي یا له نورو ډلو سره همغږي شوي. افغان امنیتي ارګانونو په ننګرهار ولایت کې د مارچ پر ۲۴ نېټه د کابل پر پوهنتون د 2020 کال په نومبر کې د برید د اصلي طراح د نیول کیدو سربیره، په دوو شمالي ولایتونو کې د نوموړې ډلې د یو شمیر غړو د نیول کیدو راپور ورکړی.

۲۲. ملګرو ملتونو د تهدیدونو د ۱۱ او جنایي ۳ پېښو په ګډون، ۲۰ داسې پېښې مستند کړي چې د دغې سازمان کارمندان یې متاثر کړي.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۳. افغانستان او د سیمې هیوادونه د همکارۍ او اقتصادي او زیربنایي اتصال پر غښتلي کولو خپل تمرکز جاري ساتلی. د فبروري پر ۱۹ نېټه، د ملي امنیت ریاست له تروریزم سره د مبارزې د همکارۍ په اړه له ازربایجان، قزاقستان، قرغیزستان، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان او دغه راز له متحده ایالاتو څخه د استخباراتي او امنیتي چارواکو لومړی (آنلاین) کنفرانس ترسره کړ.

۲۴. د فبروري پر ۲۳ نېټه، د بهرنیو چارو د وزیر عبد العزیز کاملوف په مشرۍ یوه هیئت له کابل څخه لیدنه وکړه او له ښاغلي غني، ښاغلي عبد الله، د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر محمد حنیف اتمر، د ملي امنیت له سلاکار حمدالله محب سره یې ولیدل څو د دوه اړخیزو اړیکو، سیمه ییزې همکارۍ او د سولې پروسې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ښاغلي کاملوف په افغانستان کې د تاوتریخوالي د چټک درولو او سولې لپاره د ازبکستان ملاتړ په ډاګه کړ. دواړو هیوادونو په سوداګرۍ، ترانزیت، انرژۍ، کانونو او کرنه کې د همکارۍ لپاره د عمل پلان او د مزار شریف-کابل-پیشاور د اورګاډي د پټلۍ د پروژې چې مرکزي او سهیلي اسیا سره د افغانستان له لارې سره نښلوي، د پلان په اړه مباحثې ترسره کړې.

۲۵. د فبروري له ۲۴ څخه تر ۲۶ پورې، ښاغلي اتمر له مسکو څخه لیدنه وکړه او د بهرنیو چارو له وزیر سرګي لاروف او نورو لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل. د خپلې لیدنې پرمهال رسنیو ته په خبرو کې، ښاغلي اتمر په افغانستان کې د اسلامي امارت د بیرته راستنیدو پر خلاف د روسیې فدراتیف د دریځ هرکلی وکړ او ټینګار یې وکړ چې د طالبانو پر غړو د ملګرو ملتونو بندیزونه نه باید تر هغې خوشې شي ترڅو چې هغه چې د بغاوت تر شا دي په بشپړ ډول د سولې ژمنې نه وي رعایت کړي. ښاغلي لاوروف یو ځل بیا د بین الافغاني پخلاینې لپاره د غځول شوې ترویکا فارمټ له لارې د مساعدو شرایطو د تسهیلولو په پار د روسیې فدراتیف د ژمنو یادونه وکړه او د سیمې له هیوادونو او متحده ایالاتو سره د

مسکو-فارمیټ د ناستو د بیا پیلولو لپاره یې چمتوالی په ډاګه کړ. هغه دغه راز د تاوتریخوالي د دوامدار زیاتوالي او سیمې ته د نشه یي توکو د ناقانونه قاچاق د خپریدو د ګواښ په اړه د روسیې اندېښنې څرګندې کړې.

۲۶. د مارچ له ۲۲ تر ۲۴ پورې، ښاغلي اتمر له هند څخه لیدنه وکړه او د دغه هیواد د بهرنیو چارو له وزیر سوبراهمانیام جی شنکر، د ملي امنیت له سلاکار اجیت دووال او نورو لوړ پوړو چارواکو سره لیدنه وکړه څو د سولې د پروسې په اړه د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع په اړه مباحثې ترسره کړي او د امنیت، اقتصاد، سیاسي او کلتوري موضوعاتو په اړه همکاري غښتلې کړي. هغه د افغان دولت د سولې پلان وړاندې کړ او ټینګار وکړ چې جمهوریت هغه یوازینی جوړښت دی چې کولی شي د اتباعو مساوي ګډون تضمین کړي. هندي سیالانو د افغانستان او هند ترمنځ د ستراتیژیکې همکارۍ د دوام پر اړتیا ټینګار وکړ او د د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع د توحید په ګډون یې د سولې پروسې لپاره د دغه هیواد بشپړ ملاتړ په ډاګه کړ.

۲۷. په یوه هڅه کې چې د پولې په اوږدو کې ترانسپورت او سوداګري تسهیل کړي، افغان چارواکو د ملګرو ملتونو په مرسته د مارچ پر ۲۳ نېټه له ایران، پاکستان، او ازبکستان سره د پولې په اوږدو کې د نړیوال ترانزیت تضمین او تادیاتو کمپیوټري سیستم جوړ کړ او د مارچ پر ۲۵ نېټه له پاکستان سره پر پوله د غلام خان په ګمرک یې Automated System for Customs Data World تطبیق کړ. د راپور ورکولو په موده کې د افغان او ازبک ګمرکونو چارواکو د ترانزیت د ډیټا د انلاین اکسچینج خدمتونو لومړۍ مرحله تطبیق کړه.

۲۸. د مارچ پر ۲۹ نېټه، ښاغلي غني په دوه ورځني سفر له دوشنبې څخه لیدنه وکړه او د اسیا زړه-استانبول پروسې د وزیرانو په سرمشریزه کې یې ګډون وکړ. هغه له ولسمشر امام علي رحمان سره ولیدل او د دوه اړخیزو اړیکو د غښتلي کولو په اړه یې خبرې اترې ترسره کړې. د لیدنې پرمهال، افغان او تاجک چارواکو د سیاسي، امنیتي، سوداګري، ترانسپورت، ترانزیت، انرژۍ او کلتوري همکارۍ لپاره د لار نقشو په اړه پنځه تفاهم لیکونه لاسلیک کړل.

۲۹. د مارچ پر ۳۰ نېټه، د اسیا زړه-استانبول پروسې د وزیرانو د کچې کنفرانس ترسره شو، چې په پروسه کې ښکیل د بهرنیو چارو وزیران، د مرستندویه هیوادونو د هیئتونو او سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو مشران یې سره راغونډ کړي وو. ګډونوالو د دوشنبې پریکړه لیک تصویب کړ، په کوم کې چې هغوی د ټولو هیوادونو له خوا د بیا نوي شویو ډیپلوماتیکو هڅو هرکلی وکړ څو په دوحه کې د خبرو اترو، د غځول شوې ترویکا ناستې او په ترکیه کې د لوړې کچې ناستې لپاره د تیاریو په ګډون د مهمو مذاکراتو له لارې د سولې پروسه چټکه کړي. په پریکړه لیک کې ګډونوالو د تاوتریخوالي دوامدارې لوړې کچې وغندلې او د طالبانو او نورو تروریستي ډلو لکه القاعده ترمنځ د دوامدارو اړیکو په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه. دوي همدارنګه د ښځو د څواکمنتیا د باور جوړونې د نویو تدابیرو لپاره د تطبیق پلان تصویب کړ.

۳۰. د اپریل پر لومړۍ نېټه، افغانستان او پاکستان د دریو نورو میاشتو لپاره خپل د ترانزیت تړون تمدید کړ چې سیمه ییز اتصال لا زیات غښتلی شي. د مۍ پر ۱۰ نېټه، د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر جاوید باجوه، د پاکستان د آی ایس آی د رئیس فیض حامد او بریتانیا د دفاع وزیر په ملتیا له کابل څخه لیدنه وکړه. ښاغلي باجوه له ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله سره ولیدل څو د پولې د مدیریت په ګډون د سولې د پروسې او د دوه اړخیزې امنیتي او دفاعي همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

۳۱. د مۍ پر ۱۷ نېټه له ښاغلي اتمر او ښاغلي محب سره په جلا جلا تیلفوني خبرو کې د چین بهرنیو چارو وزیر وانګ یي د چین او افغانستان ترمنځ د ستراتیژیک مشارکت پر اهمیت او د چین پر دې نیت ټینګار وکړ چې له افغانستان سره د تروریزم ضد او د امنیتي همکارۍ هڅې ژورې کړي. هغه همدارنګه د چین پر هغه چمتوالي ټینګار وکړ چې د سولې

او پخلاینې پروسې مخ ته وړلو چارو کې رغنده رول ولوبوي. افغان دولت په افغانستان او سیمه کې د سولې پروسې او ټیکاو په ملاتړ د چین د مثبت نقش په پار قدرداني څرګنده کړه.

۳۲. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړې استازې دیبورا لاینز د افغانستان د شړیو ګاونډیو هیوادونو او په پراخه کچه د سیمې د هیوادونو له سفیرانو سره په منظم ډول لیدنې جاري ساتلي څو د سیمه ییزې همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي. هغې همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له همکارو ادارو او ګاونډیو هیوادنو سره د پولې په اوږدو کې د فعالیتونو لکه سوداګري او ترانزیت، زیربنایي اتصال او د خلکو د تګ راتګ په اړه چارې همغږې کړې. د افغانستان او سیمې د موضوعاتو په اړه د عمومي منشي شخصي استازی ژن ارنول څوک چې د مارچ په نیمه یې کې ګمارل شوی، خپل تعامل پیل کړی څو جګړې ته د سیاسي حل په تر لاسه کولو کې مرسته وکړي.

## دریم: بشري حقونه

۳۳. د اپریل په ۱۴ نیټه، یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د لومړۍ ربعې خپل تازه راپور خپور کړ. د جنوري له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې، ماموریت ۱۷۸۳ ملکي تلفات (۵۷۳ مړه، د ۶۴ ښځو او ۱۵۱ ماشومانو په ګډون، او ۱۲۱۰ ټپیان، د ۶۸ ښځو او ۴۰۱ ماشومانو په ګډون) ثبت کړي، چې د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله ۲۹ سلنه زیاتوالی ښیي. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربعې په پرتله د ښځو د تلفاتو شمیر ۳۷سلنه لوړه شوی ده. یوناما د ځمکنیو نښتو او غیر ځانمرګو بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو کچه لوړه ثبت کړې، چې د ۲۰۲ کال د لومړۍ ربعې په پرتله د دولت ضد عناصرو لخوا د هدفي وژنو په شمیر کې زیاتوالی ښیي، پداسې حال کې، چې په ۲۰۲۰ کې، د ځانمرګي بریدونو او د نړیوال نظامي ځواکونو لخوا ترسره شوي هوائی بریدونو له کبله د ملکي تلفاتو شمیر راټیټ شوی. د ځانګړې اندیښنې وړ خبره داده چې ماموریت د ۲۰۲۰کال د سپټمبر په میاشت کې د افغانستان د سولې خبرو اترو له پیل څخه وروسته د شپږو میاشتو په موده کې د یو کال دمخه ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په شمیر کې ۳۸ سلنه زیاتوالی مستند کړ.

۳۴. د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې، د ملکي تلفاتو نږدې دوه پر دریمه برخه د دولت ضد عناصرو (۶۱ سلنه) ، په عمده ډول د طالبانو ( ۴۳.۵ سلنه)، د داعش ډلې د خرسان څانګې(۵ سلنه) او د حکومت ضد نامعلومو مخالفینو (۱۲.۵ سلنه) لخوا رامنځته شوې. د ټولو ملکي تلفاتو نږدې څلورمه برخه (۲۷ سلنه) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې، چې ډیری یې (۲۵ سلنه) د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لخوا رامنځته شوي، پداسې حال کې چې پاتې ۲ سلنه یې د دولت پلوه وسله والو ډلو یا ناڅرګنده حکومت پلوه ځواکونه له امله پیښ شوې. د ملکي مرګ ژوبلې دریمه برخه (۳۸ سلنه) د ځمکنیو نښتو له امله پیښ شوي دي. غیر ځانمرګي برید کونکي چاودیدونکي توکي، هدفي وژنې او هوائی بریدونه په ترتیب سره په سلو کې ۳۱ ، ۱۹ او ۵ سلنه ملکي تلفات رامنځته کړي.

۳۵. د ۲۰۲۱کال په لومړۍ ربع کې، په وسله واله شخړه کې د ماشومانو پروړاندې د جدي سرغړونو په اړه د نظارت او راپور ورکولو کاري ځواک د ۵۸۷ ماشومانو (۴۰۲ هلکانو او ۱۸۵ انجونو) پروړاندې ۶۳۶ جدي سرغړونې تصدیق کړي، چې په هغو کې ۵۵۲ ماشومانو تلفات (۱۵۱ مړه چې پکې ۵۳ انجونې، ۹۹ هلکان ، او ۴۰۱ ماشومان معیوب شوي، چې په کې ۱۳۳ انجونې او ۲۶۸ هلکان شامل دي) شتون لري. د دولت ضد عناصر د ۲۲۶ ماشومانو تلفاتو مسؤل وو، پداسې حال کې چې حکومت پلوه ځواکونه د ۲۰۷ ماشومانو تلفاتو مسؤل وو. ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو ترټولو اصلي لامل پاتې شوی، چې د ۲۷۰ ماشومانو تلفاتو (۷۱ مړه او ۱۹۹ ټپیان) سبب شوي، چې ټولټال نږدې ۴۹ سلنه جوړوي.

۳۶. یاد کاري ځواک د طالبانو (۷) او حکومت پلوه ملیشو (۷) لخوا د ۱۴ ماشومانو (ټولو هلکانو) ګمارنه او استعمال تائید کړی، په داسې حال کې چې د تیره ربع کې ۳۳ ماشومانو ګمارل او استعمال شوي وو. یاد کاري ځواک د یوه ماشوم په

وړاندې د جنسي تاوتریخوالي او د طالبانو لخوا د ۲۲ ماشومانو (۲۱ هلکانو او ۱ انجلۍ) تښتونې قضیې تائید کړې. د ۲۲ تښتول شوي ماشومانو څخه، ۱۷ یې خوشې شوي، ۱ وژل شوی او ۴ نور لا اوس هم د طالبانو په بند کې دي. کاري ځواک په ښوونځیو او تعلیمي پرسونل باندې ۱۳ بریدونه تائید کړل، چې د تیرې ربعې څخه (۱۷) یو څه کمښت رامنځته شوی، چې طالبانو ته (۴) پیښې، دولت پلوه ګډ ځواکونه ته (2) پیښې، د دولت پلوه ګډه ځواکونوه ته (۲) پیښې، دولت پلوه وسله والو ځواکونو او دولت مخالف وسله والو ترمنځ جګړې ته (۲) پیښې، د ملي امنیت ریاست ته (۱) پیښې ، حکومت پلوه وسله والو ته (۱) پیښې ، د افغانستان ملي اردو ته (1) پیښې، نامعلومه افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه ته (۱) او نامعلومه وسله وال مخالف ډلې ته (۱) پیښې منسوب شوي دي . یاد کاري ځواک د روغتونونو او صحي پاملرنې پرسونل پروراندې ۲۱ بریدونه تائید کړي، په داسې حال کې چې په تیر ربع کې ۳۹ بریدونه ترسره شوي وو. دا بریدونه طالبانو (۹) ، د افغانستان ملي اردو (۵) ، د داعش ډلې خراسان څانګې (۴) ، د ملي امنیت ریاست (۱) ، حکومت پلوه وسله والو (۱) او د افغانستان ملي پولیس (۱) ته منسوب شوي وو.

۳۷. د فبروري په ۱۵ نیټه، د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب ملي کمیسیون د ماشومانو د خوندیتوب ملي پالیسي تائید کړه، کومه چې د ماشومانو د حقونو د ملاتړ قانون سره سم رامنځته شوی. د هیواد کاري ځواک د پالیسۍ په لیکلو کې فعاله برخه درلوده، چې ډاډ ترلاسه شي ترڅو د ماشومانو د ګمارنې او جنسي تاوتریخوالي منع کول (د بچه بازي په ګډون) او د ماشومانو د خوندیتوب د نورو اقداماتو سربیره ، د پالیسي اصلي برخه وي.

۳۸. د محبسونو د چارو د مدیریت په اداره کې د بودیجې محدودیتونه د ماشومانو د بیارغونې په مرکزونو کې د پام وړ کارمندانو کمښت لامل شوي. د فسخ شویو پوستونو په منځ کې ښوونکي، مسلکي روزونکي، ساتونکي او څارونکي شامل و، چې د سلب آزادي په ځایونو کې د ماشومانو پاملرنه او بیارغونې ته زیان رسوي. د هیواد کاري ځواک د وسله والو ډلو سره د ادعا شوي یا واقعی همکارۍ یا ملي امنیت پورې اړوند تورونو لپاره په توقیف کې د بهرني ماشومانو په ګډون د ماشومانو د خوشې کولو او مؤثره بیا ادغام غوښتنې او دادخواهي ته دوام ورکړ، او د زندان چارواکو سره یې د توقیف د شرایطو د سمون لپاره کار کړی. یاد کاري ځواک د حکومت سره د ماشومانو ادغام مجدد د چوکاټ په جوړولو کار کولو ته هم دوام ورکړ.

۳۹. د ۲۰۲۰ کال د اګست له نیمایي راهیسې د زندان د نفوس زیاتوالي ثبت دوام پیدا کړ، چې له حد څخه زیادت د زندانیانو شمیر د توقیف شرایطو باندې جدي اغیزې اچوي، چې د کووید-۱۹ له امله زیانمنتوب زیاتوي. د ۲۰۲۱ کال د مارچ تر پایه پورې، د هیواد په کچه د ۳۸ زندانونو څخه لږ تر لږه ۳۰ هغه د بشپړ ظرفیت څخه ډیر و، چې د اوسط کچه ۲۰۰ سلنه ته نږدې وه.

۴۰. ګڼ شمیر دولتي ادارو د ښځو نړیواله ورځ ولمانځله، چې د ښځو چارو وزارت د مارچ په اوومه په کابل کې د یوې ملي غونډې کوربه و. د انجونو لپاره ورزشي مراسمو، راډیویي برنامو او عامه لمانځغونډو په ګډون، یوناما د یادې ورځې د لمانځلو لپاره د یو شمیر محفلونو ملاتړ هم وکړ، چې د ښځو د حقونو د پوهاوی لوړولو په موخه ترسره شوې. د مارچ په ۱۱نیټه، د پوهنې وزارت یوه اعلامیه خپره کړه چې د ۱۲ کلنۍ څخه پورته عمر لرونکي زده کونکي یې په عامه محفلونو کې د سندرو ویلو څخه منع کړي. د انتقادونو څخه وروسته، وزارت هغه اعلامیه بیرته واخیسته، او ویې ویل چې یاده اعلامیه په غلط ډول تعبیر شوی و. د اپریل په پیل کې، د ښځو چارو وزارت د ۲۰۱۷ کال د مارچ میاشتې څخه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر میاشتې پورې د ښځو په وړاندې د تاوتر یخوالي د مخنیوي قانون د تطبیق په اړه عامه راپور خپور کړ. په یاد راپور کې د ښځو او انجونو پر وړاندې د هغو قضیو په اړه شننه شتون لري چې د یاد وزارت لخوا ثبت او راجستر شوي ( ۶۵۴۹ قضیې چې ۶۵ سلنه یې جزائی وې او ۳۵ سلنه یې مدني وې). په یاد راپور کې راغلي چې ۵۳۳۱ قضیې د لویې څارنوالۍ او ۲۵۶۸ قضیې د افغان ملي پولیس لخوا تحقیق او بررسي شوي دي، چې د قضیو په شمیر کې زیاتوالی ښیي. د مثال په توګه، یاد راپور د افغان ملي پولیسو لخوا

ثبت شویو قضیو کې د کال په کال زیاتوالی په ګوته کوي: په ۲۰۱۵ کې ۶۹۸ قضیې، په ۲۰۱۶ کې ۷۴۸ قضیې، په ۲۰۱۷ کې ۱۳۲۸ قضیې او په ۲۰۱۸ کې ۱۲۴۰ قضیې دي.

۴۱. د بشري حقونو مدافعین او د رسنیو کارکونکي د امنیتي ګواښونو سره لا مخ دي. یوناما د ننګرهار په ولایت کې په دوه جلا حملو کې د دریو ښځینه رسنیو کارکونکو وژنه چې مسوولیت یې د داعش ډلې د خراسان څانګې پر غاړه واخیست او په کندهار ولایت کې د یوه پخواني ژورنالیست او د پکتیا په ولایت کې د یوې مدني ټولنې فعالې د نامعلومه مرتکبینو لخوا وژنه ثبت کړې. د بغلان، کندز او بامیان په والیتونو کې د بشري حقونو درې مدافعین (د یوې ښځې په ګډون) او یو خبریال د طالبانو لخوا ګواښل شوي. د بشري حقونو دوه مدافعین او یوه خبریاله په ننګرهار، تخار او بامیان والیتونو کې د نامعلومو مرتکبینو لخوا ګواښل شوي دي.

۴۲. د نړیوالو ځواکونو وتل او د سولې پروسې په اړه د ناڅرګندتیاوو وروسته، د بشري حقونو مدافعینو او خبریالانو د یوناما سره د خپل د ناامنۍ د احساس د زیاتیدو خبره راپورته کړ. د ۲۰۲۱ کال له پیل راهیسې، د بشري حقونو مدافعینو کمیټې، چې یو غیر دولتي سازمان دی، په افغانستان کې د مدني ټولنې فعالینو څخه د ملاتړ لپاره ۶۹ غوښتنلیکونه ترلاسه کړي، چې ۲۲ یې په کې د ښځو څخه وو. د مارچ په ۲۷، د ولسمشر دوهم معاون سرور دانش په مشرۍ د بشري حقونو د مدافعینو لپاره ګډ کمیسیون سره وکتل او د یاد کمیسیون د کړنلارو او راتلونکو ګامونو په اړه سره سلا شول. د مطبوعاتو د آزادۍ نړیواله ورځ (د مې ۳) ، یوناما او ګڼ شمیر سفارتونو په عام ډول د آزادو او خپلواکو افغان رسنیو لپاره د دوامداره ملاتړ ژمنه وکړه. د مې په ۵، د رسنیو سازمانونو، رسنیو ته د طالبانو لخوا د بې طرفه ساتلو خبرداری غندلی او د ملي امنیت ریاست څخه یې د ادعا شوي بیانونو په اړه د وضاحت غوښتنه کړې چې د رسنیو له آزادیو سره دښمني ګڼي.

۴۳. یوناما، د سیاسي او سولې جوړونې چارو اداري د منځګړیتوب ملاتړ واحد په تخنیکي مرستې سره، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون سره د سولې ، بشري حقونو او قرباني محور عدالت پورې اړوند مسلو په اړه خپل کار ته دوام ورکوي.

۴۴. د مې په ۷ مه، د نړیوالې جنایي محکمې څارنوال په هاګ کې د ښاغلي اتمر په مشرۍ د افغانستان د اسلامي جمهوریت له پلاوي سره وکتل ترڅو د حکومت لخوا د غوښتنې اړوند موضوعاتو په اړه بحث وکړي ترڅو روم اساسنامې د ۱۸ مادې (۲) فقرې سره سم د محکمې تحقیق وځنډوي.

## څلورم. د پرمختیائی مرستو همغږي

۴۵. د اپریل په ۶ نیټه، د مالیې وزیر او د ولسمشر اداري چارو رئیس مرستندویانو سره ولیدل ترڅو د ژنو ۲۰۲۰ کال کنفرانس د ژمنو پلي کولو په اړه د کابینې لخوا تصویب شوی طرزالعمل هغوی ته وړاندې کړي، په کوم کې چې د افغانستان د مشارکت چوکاټ پلي کولو په اړه میکانیزمونه په تفصیل سره بیان شوي دي. د اپریل په ۲۹ نیټه، په ګډه لیک کې، مستندویانو د دولت سره د لوړې کچې پالیسۍ ډیالوګ باندې د ستراتیژیکې ښکیلتیا پر اړتیا ټینګار وکړ. سربیره پردې، د کاري چوکاټ کاري ځواک غړیتوب پراخ شو ترڅو د مالیې وزارت، یوناما او نړیوال بانک سربیره د ولسمشر اداري دفتر او د اروپا اتحادیه هم په کې شامل کړي. د اپریل په ۲۲ او د مې په ۶، یاد کاري ځواک د مهمو پیښو او فعالیتونو لپاره د نقشې لارې چمتو کولو لپاره ولیدل چې د لوړ پوړو چارواکو ناستې ته یې وړاندې کړې چې ټاکل شوې ده چې د نومبر په میاشت کې ترسره شي. حکومت د مې په ۱۳ د چوکاټ د پلي کولو په اړه لومړی راپور خپور کړ، په کوم کې چې پکې روښانه شوې ده چې ۱۳ اهداف چې په ۲۰۲۱ کې پلي کیږي د روان کال څلورم ربع پورې به بشپړ شي. په جلا توګه، د اپریل په ۲۰، حکومت د عامه پانګوونې مدیریت سند خپور کړ چې هدف یې د عامه پانګوونې په پروژو کې د حساب ورکونې وده ده. پرمختیائی همکاران، دوه اړخیز تمویل کونکي، څو اړخیز

مالي نهادونه (نړیوال بانک او آسیائی پراختیائی بانک)، یوناما او حکومت د افغانستان د ملي سولې او پراختیا دویم چوکاټ لپاره د پایلو چوکاټ او نظارت سیستم کار ته دوام ورکوي.

۴۶. د فبروري په ۲۰نیټه، ښاغلي غني د قضائیه قوې د اداري رئیس په مشرۍ یوه څلور کسیزه کمیټه وټاکله ترڅو د مالي او اداري ستونزو او همدارنګه د اداري فساد درنو جرمونو په وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز د کارمندان د استقلالیت پر وړاندې ننګونې په اړه هراړخیزې ارزونې ترسره کړي. د کمیټې موندنې لاهم علني شوي نه دي. د مارچ په ۲۶نیټه، د یاد مرکز د څارنوالۍ عمومي رئیس استعفا ورکړه ، او د هغه په کار کې یې د لاسوهنې ادعا وکړه. ولسمشر د دې مرکز د څارنوالۍ لپاره نوی عمومي رئیس او د څارنوالیو رئیسان وټاکل.

۴۷. د پراختیائی شریکبانو په همکارۍ، یوناما د ۲۰۲۱ لپاره د اداري فساد پروړاندې ملي لنډمهاله مسودې لیکلو په موخه د اداري فساد پروړاندې د مبارژه کمیسیون ته تخنیکي ملاتړ او وړاندیزونه وړاندې کړ ، چې د ۲۰۱۷ څخه وروسته د لومړۍ اوږدمهاله ستراتیژۍ تصویب ته ځنډول شوی، کله چې پخوانۍ ستراتیژي موده پای ته ورسیده. د اداري فساد ضد کمیسیون په جوړښت کې د بازرس دفتر مدغم کیدو د اعلام سره، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د اداراتي چوکاټ سمون لړۍ دوام لري. د اپریل په ۱۲، ولسي جرګې د محکمو د واک او صلاحیت قانون په اړه نوی قانون ، او همدارنګه د اطلاع ورکونکو د محافظت قانون تصویب کړ، چې د ولسمشر تقنیني فرمان لخوا د سپتمبر په ۵ نیټه توشیح شوی و. دواړه قوانین د مشرانو جرګې لخوا تصویب ته سترګې په لار دي).

۴۸. د اداري فساد په تړاو د لوړ پوړو دولتي چارواکو د محاکمو لړۍ دوام لري. د فبروري په ۲۸، د سترې محکمې ځانګړې هیئت د سوداګرۍ او صنایعو پخوانۍ وزیر محاکمه کړ او هغه یې په یو کال بند او ۸۶۴۰۰ ډالرو نقدي جریمې محکوم کړ. لویه څارنوالۍ د نورو دریو وزیرانو په اړه پلټنه کوي. د فبروري له ۱۵ څخه د مۍ تر ۵ نیټې پورې، د اداري فساد درنو جرمونو ضد عدلي او قضایي مرکز ابتدائی محکمې د ۱۶ مدافعینو په ګډون، شپږ قضیې فیصله کړې، پداسې حال کې چې د استیناف محکمې د ۱۲ مدافعینو په درلودلو سره د څلورو قضیو په اړه خپل نهایي نهایي حکمونه صادر کړل. د مارچ په ۷، ورته محکمې د هرات ولایت پخواني والي (چې د مشرانو جرګې پخوانۍ غړی هم و) د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنې په جرم محکوم کړ او هغه یې په دوه کاله او شپږو میاشتو بند او شاوخوا ۱۴۰۰ډالرو نقدي جریمې محکوم کړ. د اپریل په ۳، ابتدائی محکمې هم د کابل یو پخواني ښاروال د جعل په تور محکوم کړ او هغه یې په یو کال او یوه میاشت حبس محکوم کړ. د ګرفتارۍ د قرارونو محدود پلي کول او نهائی پریکړې حساب ورکونه له ګواښ سره لا هم مخ کړې.

۴۹. حکومت د لیاقت او شایستګۍ پر بنسټ ولاره عامه اداري جوړولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. د اپریل په ۸، د بریښنائی بشري سرچینو مدیریت معلوماتو سیستم، کوم چې به د ملکي کارمندانو معاش، تقاعد او ارزونې سیستم اسانه کړي او والیانو ته به اجازه ورکړي چې د ولایتي تشکیلاتي جوړښتونو او د کارمندانو ثبتونو معلوماتو ته لاسرسی ولري، د سیمه ایز حکومتدارۍ ځانی ارګانونو خپلواک عمومي ریاست ته وسپارل شو.

۵۰. د پارلمان د نظارت رول پیاوړي کولو او د ملي بودیجې چمتو کولو پروسې کې د پارلماني ښکیلتیا کچې لوړولو په موخه، د اپریل په ۱ نیټه، د مالیې وزیر اعلان وکړ چې هغه به د ولایتي بودیجې لومړیتوب تخصیص د پیژندلو او تعئینولو میکانیزم په ګډون د پروسې د اصلاح لپاره له پارلمان سره مشورې پیل کړي. هغه په لومړۍ ربع کې د بودیجې د ۱۳ سلنه لګښت راپور ورکړ.

۵۱. د مارچ په ۷ او ۹، ملګرو ملتونو او د ولسمشر لومړي مرستیال دفتر د ښکیلو اړخونو مشورې په لړ کې لومړۍ ګډه کوربه توب وکړ ترڅو د ګډ هیواد تحلیل لومړني موندنو او له هغه وروسته د ستراتیژیک لومړیتوب پایلو او د بدلون تیوري ګانو په اړه بحث وکړي. موندنې به د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو دوامداره همکارۍ کاري چوکاټ (۲۰۲۲–۲۰۲۵) تمرکز

او جوړښت تعریف کړي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان د سولې او پراختیا ملي دویم کاري چوکاټ او د دوامداره انکشاف لپاره د ۲۰۳۰ اجنډا سره سم او د افغانستان لومړیتوب اړتیاوو ته رسیدګی په موخه ملاتړ فراهم کړي. د پروګرام جوړنه به د بشرپالنې، پراختیا او سولې همکاری ګډ تاثیر ته هم لومړیتوب ورکړي.

۵۲. د مې په ۲ د شریکباڼو سره د مشورتي غونډې د رابللو په ګډون، د ملګرو ملتونو ادارو حکومت ته د دوامدار پرمختګ اهدافو په لور پرمختګ په اړه د ۲۰۲۱کال داوطلبي ملي راپور چمتو کولو لپاره حکومت سره تخنیکي مرسته وړاندې کړه. یاد راپور به د جون تر پای پورې نهائی شي.

## پنځم. بشر دوستانه مرستې

۵۳. دوامداره شخړه، طبیعي آفتونه، اوږدمهاله فقر، د خوراکي توکو ناامني او د کوویډ-۱۹ وبا اضافي بوج د ډیریدونکي رنځ لامل شوي. په ۲۰۲۱ کې، شاوخوا ۱۸.۴ ملیونه خلک، یا نږدې نیمائی نفوس بشرپاله مرستې ته اړتیا لري. دغه شمیره د ۲۰۲۰ په پیل کې ۹.۴ میلیونه وه. د جنوري او مارچ ترمنځ، بشردوستانه شریکباڼو د ۱۵.۷ میلیون خلکو څخه، ۳.۷ میلیونه خلکو ته یو ډول مرستې چمتو کړي.

۵۴. د مې تر ۱۷ نیټې پورې، د ۶۲۰۰۰ څخه ډیر خلک د کوویډ-۱۹ په ناروغۍ اخته شوي و، مګر داسې انګیرل کیده چې ریښتیني شمیره یې خورا لوړه وه. په ټوله کې، افغانستان د کوویډ-۱۹ واکسین نړیوال لاسرسي اسانتیا او دوه اړخیزو مرستې له لارې د واکسین ۹۶۸۰۰۰ ډوزونه ترلاسه کړي. تر دې دمه نږدې ۵۰۰۰۰۰ کسان واکسین شوي، که څه هم په ټولیز ډول د خلکو د پوهاوي د غلطو معلوماتو او شایعاتو له امله د واکسیناسیون لړۍ ورو روانه ده، چې په پایله کې یې د واکسین په اړه د خلکو شکونه راپورته شوي. د مې د میاشتې له وروستیو ورځو راهیسې، د کوویډ-۱۹ قضیو د ویروس و نویو بڼو د راڅرګندیدو له امله په چټکۍ سره وده کړې.

۵۵. په افغانستان کې د ۲۰۲۰کال د مارچ په میاشت کې د ناروغۍ له پیل راهیسې، د بشردوستانه مرستو کارمندانو لاندې مرستې وړاندې کړي: د کوویډ-۱۹تست لپاره د ۲۹ لابراتوارونو تاسیس کولو، د قضیو پیژنو او ککړتیا موندنې د مرستې په موخه د د ۳۴۰۰۰ د ګوزڼ سروې رضاکارانو ګمارل، په ملی کچه د روغتیا چمتو کونکو او د لومړۍ لیکې مرستې کارمندانو ته د ۴۲ ملیونه د محافظتي تجهیزاتو د کیټونو برابرول ، د ناروغۍ مخنیوي او کنټرول لپاره د ۲۵۰۰۰ څخه ډیر د روغتیا پاملرنې کارمندانو روزنه ، او د بحران له پیل راهیسې د ننوتلو ځایونو کې د ۱۱.۶۶میلیون خلکو سکرین کول.

۵۶. د فبروري د ۱۳ نیټې او د مې ۹ نیټې ترمنځ ، روغتیايي شریکباڼو د ۳۷۸۵۰۰ څخه زیاتو خلکو ته طبي مرستې ورسولې، چې ۵۲ سلنه یې ښځې او انجونې وې. د راپور ورکولو په موده کې د صدماتو پیښو شمیره د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله نږدې ۲۴ سلنه زیاته وه.

۵۷. د ۲۰۲۱ کال د پیل راهیسې د ګوزڼ تائید شوي یوه قضیه راپور شوې ده. د ځنګلي ګوزڼ ویروس سربیره، افغانستان د ګوزڼ ویروس دویم ډول یې سرایت هم تجربه کړ وروسته له هغه چې په پاکستان کې د یاد ګوزڼ پیښې رامنځته شوې، چې په پایله کې یې ۱۳۶ تائید شوي قضیې په ۲۰۲۰ کال کې او ۳۸ قضیې په ۲۰۲۱ کال کې شتون لري. ډیری قضیې په هغو سیمو کې پیښې شوي چیرې چې د کور په کور د واکسین کمپاینونه د ۲۰۱۸ کال د مې د میاشتې راهیسې د دولت ضد عناصرو لخوا منع شوي و. روغتیا شریکباڼو په ۲۰۲۱ کې د هیواد په کچه د ګوزڼ واکسین درې کمپاینونه ترسره کړي، چې هر یو یې ۹.۹ میلیونه ماشومان واکسین کړل.

۵۸. د فبروري له ۱۲ او د می تر ۱۷ نیټې، بشردوستانه شریکبانو د جنسي، بیا زیږون او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي غبرګون خدمات له ۱۵۳۰۰ څخه زیاتو خلکو ته د ایران (اسلامي جمهوریت) او پاکستان سره د ننوتلو ځایونو کې چمتو کړي. د ورته مودې په جریان کې، د زیږون روغتیائی ۱۱ اضطراري ټیمونه د زیږون روغتونونو ته وویشل شوې، چې د دریو میاشتو لپاره د ۳۰۰۰۰۰ څخه زیاتې ښځو او انجونو څخه ملاتړ وکړ.

۵۹. د خوراکي توکو ناامني د خطرناکې لوړې کچې په توګه پاتې، چې د ۳۴ والیتونو څخه ۲۷ یې د حادې خوارځواکۍ بېړنۍ حد څخه پورته دي. د می د میاشتې تر پایه، تمه کیږي ۱۴.۱ میلیونه خلک د خوراکي توکو د نه خوندیتوب په "ناورین" او "بیړنۍ" کچه کې وي. تمه کیږي چې نږدې ۱/۲ برخه د ۵ کلونو څخه کم عمرو په ماشومانو کې د ۲۰۲۱ په ترڅ کې د سوء تغذیې سره مخ شي. د فبروري ۱ او د می ۱۹ ترمنځ، بشردوستانه شریکبانو کابو ۳.۴ میلیونه د خواړو ناامنه خلکو ته ۵۱۹۲۵ متریک ټنه خوراکي توکي او ۱۶ میلیون ډالرو نغدي مرستې وړاندې کړې او له ۳۱۸۰۰۰ څخه ډیرو زیانمنو خلکو سره د معیشت مرستې برابرې کړې. د شخړې زیاتوالي او د وچکالۍ لوړې احتمال چې د لا نینا هوا پدیدې لخوا رامنځته شوي به یوازې بشري اړتیاوې لاپسې پراخه کړي.

۶۰. افغانستان ته د بې سنده افغانانو د بیرته ستنیدنې شمیر لا هم ډیر دی، پداسې حال کې چې د کډوال راستنیدنه ټیټه ده، که څه هم د ۲۰۲۰ کال د ورته وخت د راستنیدنې ثبت شویو ارقامو څخه ډیر لوړ ده. بیرته ستنیدنه د کووید-۱۹ ناروغۍ او اړوند ګرځبندیز او محدودیتونو، روغتیا پاملرنې ته محدود لاسرسی او د ټولنیز اقتصادي وضعیت اړونده حالاتو لامل شوي دي. د فبرورۍ ۱۳ نیټه او د می ۱۹ نیټې ترمنځ ، ۳۳۱۹۳۲ بې سنده افغان کډوال او ۳۹۲ کډوال د ایران اسلامي جمهوریت څخه راستنیدلي، ۳۹۴۶ بې سنده افغانان او ۲۰۰ کډوال له پاکستان څخه راستانه شوي او ۸ کډوال له نورو هیوادونو څخه راستانه شوي. د جنوري ۱ نیټې راهیسې، ۴۲۳۷۸۴ بې سنده راستنېدونکي او کډوال افغانستان ته رسیدلي. احتمال لري چې د بشری غبرګون په پلان کې شامل ۶۵۴۰۰۰ بې سنده راستنیدونکي لمړني اټکلونه د ۲۰۲۱ په جریان کې د پام وړ زیات شي.

۶۱. جګړو او ناورینونو د نوي بشردوستانه اړتیاو رامنځته کولو ته دوام ورکړ. د فبروري ۱۳ او د می ۱۹ ترمنځ ، له ۳۱۰۰۰ ډیر خلک په هیواد کې دننه بې ځایه شوي او شاوخوا ۱۲۰۰۰ خلک د طبیعي آفاتو، ډیری یې سیلابونه لخوا اغیزمن شوي. بشردوستانه شریکبانو شاوخوا ۳۱۰۰۰ زیان منونکو خلکو ته چې د سخت اقلیم، شخړو او طبیعي پیښو له امله زیانمن شوي، بیړني سرپناه ، کورني توکي، د ژمي مرستې او اړوند نغدي مرسته چمتو کړې.

۶۲. د فبروري څخه تر اپریل پورې، د ماین پاکۍ اداراتو او همکارانو له ۲.۵۷ کیلومتر مربع څخه زیاته ځمکه پاکه کړه د لوړ تاثیر کونکي چاودیدونکو توکو لخوا ککړه شوې، چې د ۸۰ ټولنو ګټې لپاره یې د چاودیدونکو توکو ۷۷۵ توکي په خوندي ډول لرې کړي. سربیره پردې، ۱۹۸۲۹۰ کسانو د چاودیدونکي توکو د خطر په اړه زده کړه ترلاسه کړه.

۶۳. پراخه ناامنۍ د بشرپالنې لاسرسي لپاره ننګونو وړاندې کولو ته دوام ورکړ. د جنوري ۱ او د می۱۹ نیټې ترمنځ، بشردوستانه کارمندانو د لاسرسی اړوند ۶۳۷ پیښو راپور ورکړی، چې د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله ۷۶ زیاتوالی ښیي. د فبروري ۱۳ او د می ۱۹ نیټې ترمنځ ، ۵ مرستندوی کارګران وژل، ۱۷ ټپیان او ۱۹ تښتول شوي. د ۱۵ پیښو په درلودلو سره، د روغتیا پاملرنې پر وړاندې بریدونه دوام درلود، چې په ترڅ کې یې ۹ روغتیائی تاسیسات زیانمن کړي چې ۱۱ روغتیائی کارمندان او ناروغان پکې مړه او ۶ نور ټپیان شوي.

۶۴. د پسرلي فصل په جریان کې د ګڼ شمیر ډیر پیچلو ننګونو په پام کې نیولو سره، د کلستر د همغږۍ ټیم د پسرلي ناورین احتمالي پلان رامنځته کړ چې د مارچ څخه بیا د جون تر منځ د ډیرو عاجلو اړتیاو پوره کولو لپاره ۳۹۰ میلیونه ډالرو غوښتنه کړې. دا پلان د ۲۰۲۱ بشردوستانه غبرګون پلان ضمیمه ده، کوم چې تر ډیره بریده د پیسو کموالي سره مخ ده، د می تر ۱۹ نیټې پورې د ۱.۳ میلیارده ډالرو څخه د ټولو اړتیاوو څخه یوازې ۱۳ سلنه پیسې ترلاسه شوي. سربیره پردې، د صحي پاملرنې

خدماتو او واکسینونو چمتو کولو ظرفیت، په ځانګړي توګه د فعالو شخړو او غیر دولتي تر کنټرول لاندې سیمو کې، د شدید مالي تمویل او د کوویډ-۱۹ بیړنې غبرګون لپاره د مالي سرچینو د اختصاص له امله ناکافي او محدود دی. بشردوستانه فعالین د دې توان نلري چې مرستې زیاتې کړي او اضافي اړتیاوو ته رسیدګي وکړي پرته لدې چې لا نورې پیسې ورته چمتو شي.

## شپږم . د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

۶۵. د فبروري له ۱۵ څخه د مې تر ۹ پورې، په افغانستان کې د قانون پلي کونکو ادارو د مخدره توکو پروړاندې ۸۱۲ عملیات ترسره کړي. د یادو عملیاتو په پایله کې، ۳۹۵ کیلوګرامه هیروئین، ۴۰۷۷ کیلوګرامه ترياک، ۵۳۶۳۰ کیلوګرامه چرس ، ۵۶۳۱ کیلو ګرامه بنګ دانې، ۱۶۹ کیلو میتامفیتامین، ۳۳۱۱ کیلو متنوع کیمیاوي توکي او ۵۶۲۸۹ د میتیلینډی اکسایډیمفیتامینو ټابلیتونه ضبط شول. همدارنګه، د عملیاتو په ترڅ کې ۱۲۶هکتاره د کوکنارو کښت تخریب شو، چې په پایله کې د ۹۱۷ شکمن کسانو ونیول شول او د ۱۳۸ نقلیه وسایط او ۱۲۱ وسلې هم ضبط شوی.

۶۶. د فبروري په ۱۷ او ۲۱ نیټه، په هوائی ډګر د نشه يي توکو د مخنیوي څانګې، چې د حامد کرزی نړیوال هوائی ډګر کې د قانون پلي کونکو ادارو سره کار کاوه، ۱۰ غالۍ چې په کې ۷ کیلو هیروئین ځای پر ځاي شوي و او جامې چې په کې ۷.۵ کیلو هیروئین ځای پر ځاي شوي و، ضبط کړل. پنځه شکمن کسان نیول شوي دي.

۶۷. د ۲۰۲۰کال لپاره د افغانستان د ترياکو سروې چې د مې په ۳ نیټه د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو پروړاندې دفتر په ملاتړ خپره شوه، په لنډیز کې يي راغلي چې په افغانستان کې د کوکنارو احتمالي تولید پدې کال کې ۶۳۰۰ ټنه اټکل شوی و. په هر هکتار کې د ترياکو اوسط حاصل ۲۸ کیلوګرامه و. سویل لویديځه سیمه د ترياکو تولید کونکو لویه سیمه پاتې شوې، چې په هیواد کې د ترياکو تولید ۶۸ سلنه جوړوي. په ۲۰۲۰ کال کې د ترياکو د تولید کرکیله ارزښت ۳۰۰ ملیونه ډالر اټکل شوی و چې دا ۲۰۰۹کال راهیسې ترټولو ټيټه کچه ده. دا د دې لپاره چې د ترياکو نرخونه، په هر کیلو کې ۵۵ ډالره و او د سیستماتیک نظارت له پیل راهیسې د هر کیلو ترياکو نرخ ترټولو ټيټې کچې ته رسیدلی، او علت يي دا دې چې د ترياکو د ناقانونه کښت په پرتله د بدیل پراختیائی فعالیتونو څخه محصولات ډیر ګټور دي.

## اووم. د ماموريت ملاتړ

۶۸. د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې، د ۶ سلنې، ۷ سلنې، ۳ سلنې او ۳ سلنې د منل شویو کچو په پرتله، په یوناما کې د تشو پوسټونو کچه په ترتیب سره د نړیوالو کارکونکو لپاره ۱۳ سلنه، د رضاکارانو لپاره ۱۳، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۰ سلنه و د داخلي کارکونکو لپاره ۳سلنه وه. د ښځینه کارمندانو د تناسب کچه د نړیوالو کارکونکو لپاره ۳۴ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۷ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۳ سلنې او د داخلي کارکونکو لپاره د ۱۰ سلنه وه.

۶۹. د کوویډ-۱۹ وبا پورې اړوند ناڅرګند وضعیت او د ناڅرګنده امنیتي حالاتو په پام کې نیولو سره، یوناما او د ملګرو ملتونو سازمانونو صندوقونو او برنامو د بیړني پلان جوړولو ته دوام ورکوي او پریکړه يي وکړه چې د دندې په ساحه کې د نړیوالو کارمندانو او داخلي کارمندانو په شمیر کې زیاتوالی رامنځ ته نکړي او د کوویډ-۱۹ په قضیو کې د احتمالي بدلونونو او د ملګرو ملتونو کارمندانو او عملیاتو ته د امنیتي خطرونو منظم ارزونې په پام کې نیولو سره به په دفترونو کې د کارمندانو د شمیرې په اړه په منظم ډول بیاکتنه وشي.

۷۰. ملګرو ملتونو په افغانستان کې د کاویشیلډ واکسین ۵۰۰۰ ډوزه ترلاسه کړي، چې د نړیوالو غیر دولتي سازمانونو کارمندانو په ګډون، د وړ کارمندانو ۲۰ سلنه په بر کې نیسي. واکسینونه هغو کارمندانو ته ورکول کیږي چې د واکسین په ثبت

او اداري پورټال کې يې ځانونه ثبت کړي دي او د نړيوال روغتيا سازمان د شغلي روغتيا او خونديتوب لارښودونو سره سم لومړيتوب ورکول کيږي.

## اتم. ملاحظات

۷۱. افغانستان د لسيزو اوږدې شخړې نوي او ناڅرګند پړاو ته داخليږي. د سولې خبرو کې پرمختګ چې ۲۰۲۰ کال په سپټمبر کې په دوحه کې پيل شوی و ، ورو روان دی او په ټول هيواد کې جګړې دوام لري. پداسې حال کې چې د لوی اختر لمانځلو شاوخوا درې ورځنی اوربند له تاوتريخوالي څخه لږه آرامه زمينه برابره کړه، د وسله والې نښتې ويره د ريښتيني خبرو اترو لپاره فضا ګواښوله. د پاتې نړيوال نظامي ځواکونو د وتلو اعلان، چې په څو مياشتو کې دننه به بشپړ شي، د سولې پروسې په اړه ملي وحدت ته اړتيا روښانه کړه. زه په دواړو خواو غږ کوم چې پدې برخه کې خپلې هڅې لا ګړندی کړي، په دې پوهاوي سره چې د سولې جامع پروسه، چې ښځې، ځوانان او د جګړې قربانيان په معنی لرونکې ډول استازيتوب ولري، د شخړې د دوام حل لپاره اړين دي. يوازې د خبرو اترو له لارې جوړجاړی کولای شي چې تاوتريخوالی ته د پای ټکی کيږدي.

۷۲. سيمه ايز اجماع په دې باور ده چې په افغانستان کې د سولې لاسته راوړنه کولی شي د اقتصادي همکاريو، د پولو پر سر راکړه ورکړه او د تاريخي اړيکو بيا ژوندي کولو لپاره د ښه شرايطو له لارې خلکو ته ګټه ورسوي. د لا ډيرو ارتباطاتو لپاره په پام کې نيول شوي پلانونه به افغانستان له سيمې سره او سيمه له افغانستان سره وصل کړي. په افغانستان او سولې په برخه کې د سيمې د هيوادونو مهم رول په رسميت پيژندلو په پام کې نيولو سره، ما ژان ارنولټ په افغانستان او سيمه ايزو مسلو کې د خپل ځانګړي استازي په توګه وټاکه. د سولې پروسې د ملاتړ په برخه کې، د هغه کار د يوناما د ماموريت لپاره تکميل کوونکې دی او د يوناما سره له نږدې همغږۍ کيږي.

۷۳. امنيتي وضعيت لاهم د ژورې انديښنې وړ ده. د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر په مياشت کې د سولې د خبرو له پيل نه وروسته په شپږو مياشتو کې، د ملکي تلفاتو شمير د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د پام وړ لوړ شوی دی. د ملکي وګړو هوساينه او ساتنه د ټولو خواو مسؤليت دی. د دولت ضد عناصرو لخوا په قصدي ډول د ملکي وګړو هدف ګرځول، د رسنيو کارمندانو ، د مدني ټولنې فعالانو ، د قضائی قوې او ملکي اداري غړو او ښځو د هدف ګرځولو په ګډون، د شخړې يوه ناوړه بڼه ده. دا ډول بريدونه بايد سمدستي ودريږي او د ټولو خواو لخوا په کلکه غندل کيږي، او په بشپړه توګه تحقيق شي، او عاملينو سره يې بايد حساب او کتاب شي.

۷۴. د بشري حقونو د پراختيا او ملاتړ لپاره د حکومت هڅې د ستاينې وړ دي. د موجوده قوانينو او پاليسيو پلي کولو باندې تمرکز کولو سره، لکه د ښځو پروړاندې د تاو تريخوالي مخنيوی قانون، ځانګړي ګامونه کولی شي د ښځو حقونو ته وده ورکولو او تضمين کولو لپاره په اسانۍ سره ترسره شي. د بشري حقونو مدافعين، مدني ټولنه او رسنۍ د افغاني ټولنې جوړښت لپاره لازمي دي. پدې نازک وخت کې به په افغانستان کې د بشري حقونو سکتور لپاره دوامداره ملاتړ ، د مدني فضا لپاره د دادخواهي په شمول، خورا مهم وي.

۷۵. په زندانونو کې له حد څخه د زياتو بنديانو شتون د توقيف په شرايطو منفي اغيزه لري، او دغه چاره د کوويډ-۱۹ وبا له امله زيان مننه زياتوي. زه په دولت غږ کوم چې د محاکمې دمخه پر توقيف کولو د محدوديت وضع کولو او په زياتيدونکې توګه د مجازاتو بديل کارولو او په زندان کې د له حد څخه زياتو بنديانو شتون ته د رسيدګۍ له لارې، د زندان نفوس کمولو لپاره احتمالي تدابير وپلټي.

۷۶.	بشردوستانه وضعیت خورا ناڅرګند پاتې دی. د خلکو پام وړ شمیر چې د بحران یا اضطراري په کچې د خوړو ناامني سره مخ دي او د ۵ کلونو کم عمر ماشومانو کې د حادې خوارځواکۍ متوقع لوړه کچه د خطر علامې دي. په درېو راتلونکې کلونو کې د وچکالۍ احتمال چې د دوهم لا نینا اقلیمي پیښې له امله رامنځته شوي به بشري اړتیاوې لاپسې پراخه کړي. زه د مرستندویه هیوادونو څخه غوښتنه کوم چې د ۲۰۲۱ بشردوستانه غبرګون پلان په غبرګون کې لومړني مرستې تنظیم کړي، کوم چې خورا لږ مالي تمویل سره مخ دی، ترڅو بشري فعالینو ته اجازه ورکړل شي چې په بیړني ډول د ژوند ژغورنې فعالیتونه تنظیم کړي. زه له ټولو خواو څخه غوښتنه کوم چې د بشردوستانه کارمندانو او تاسیساتو پروړاندې بریدونو څخه ډډه وکړي، خوندي او بې مانع لاسرسي ډاډمن کړي او د بشري مرستې لپاره وړ چاپیریال رامنځته کړي.

۷۷.	افغانستان به د راتلونکې لپاره په ملکي مرستو تکیه وکړي. زه د ۲۰۲۰ کال کنفرانس کې په ځانګړې توګه د افغانستان د مشارکت کاري چوکاټ کې د شویو ژمنو په ترسره کولو کې د شوي پرمختګ څخه هرکلی کوم. د دولت او تمویلوونکو تر منځ قوي مشارکت به اړین وي چې لومړیتوبونه په واضح ډول تعریف او د دوامداره اقتصادي او ټولنیزې ودې په لاره کې ، د ناقانونه اقتصاد د مخنیوي لپاره د اقداماتو په ګډون، د افغانستان ملاتړ وکړي.

۷۸.	د کوویډ-۱۹ وبا دوام لري، چې د نوي بڼو په پایله کې د قضیو ډیریدو په اړه اندیښنې شتون لري. د واکسین کمپاین پیل او د ویروس د خپریدو محدودولو لپاره دوامدار اقدامات د قضیو د دوامداره کمولو لپاره مهم عناصر دي. ملګري ملتونه به د ناروغۍ اغیزې به رسیدګې سره د دولت او خلکو ملاتړ ته دوام ورکړي او په کار ده چې واکسینونو ته د مساوي لاسرسي ډاډ ترلاسه کړي.

۷۹.	د نړیوال نظامي ځواکونو د حضور کمیدل د ملګرو ملتونو او غیر حکومتي ملګرو لپاره په عملیاتي چاپیریال کې د پام وړ بدلون منعکس کوي. د سازمان دلته پاتې کیږي او خدماتو وړاندې کولو ته دوام ورکوي. ملګري ملتونه د ۷۵ کلونو لپاره د افغانستان له خلکو سره اوږه په اوږه کار کوي او ژمن دی چې د سولې، بشري حقونو او دوامداره، ټول شموله ودې ملاتړ کې بې پرې او منسجمې مرستې چمتو کړي چې ټولو ته امیدونه او فرصتونه چمتو کړي. زه په ټولو خواو غږ کوم چې د ملګرو ملتونو او بشردوستانه پرسونل ساتنې لپاره خپله ژمنتیا وساتي او دوی ته دا وړتیا ورکړي چې خپل حیاتي کار په خوندي او بې له کومې مانع ترسره کړي.

۸۰.	زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړې استازې او د یوناما رئیسې، دیبورا لاینز او زما شخصي استازي، ژان آرنولټ څخه تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره سرښندنې مننه کوم، چې موخه یې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي.